قندهار کښې ئې راټول کړل خانان
ټول له د قوم اختیار دار مشران

هر قوم ورکړله ځوانان توریالي
ټول وغښتلي ننګیالي جنګیالي

شل زره بیج سول پنځه کې د ښار
ګرد ه ولاړ و د میرخان په ګفتار

میرخان اتفاق کا وپیش به یې مشر
قوم ئې وند ګډ زوی او کشر

په داسې کار و کا حاجي ګرندي
د پښتو ناموس ئې وکا خوندي

کال و یو سل نونس او زر پشمار
خلاص سو له ظلم د ګرګین قندهار

ذ ظلم پای دی هسې وران عالم
زړي له ظلمه څوک و دان عالم

ذ ظلم اوږه بل سي سوځي جهان
پکښې کباب سي ستمګر ظالمان

ظالم جفا کوي پر ځان نه په بل
وینی هر څوک سزا د خپل بد عمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکر د عالم کامل ملا محمد عادل بریڅ دا ملا صاحب یقوم بریڅ او عالم او متورع سړی دی خلقو ته د سبو لار ښوونه کا په ښوو او کښ اوسی او طالبانو ته درس کا د ده پلار ملا محمد فاضل هم ښه ملا و په روضه ربانی کتاب ی کښلی و ملا محمد عادل هم یو کتاب نظم کړی دی په محاسن الصلوة ی نوم دی او د لمانځه مسایل او ثوابونه او د تارکینو عذابونه ئی پکښ کښلی دی دا یو څو بیتونه له هغه کتاب د لته رانقل کوم چه یادګار وی

بیت

هغه خلق عاصیان دی | چه په فرض کښی کاهلان دی
چه فرض نه کاندی قصدا | دوی بی شکه کافران دی
چه وای کریم نی زده ی نوی | که طعام خوری حیوانان دی
علم فرض پر هر سړی دی | چه فرض نه کا څه کسان دی
چه په قصد یوځل یی قضا کا | په دوزخ کی غاستان دی
خدای تیاره امان غواړم | له هغو چه فاجران دی

له هغو سره چی ګډ کا
چه خاص د ایمانداران دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکر د شاعر شاطر محمد طاهر جریاڅی د محمد علی جریاڅی زوی دی

پیښور د کاندارئ کا د بنګالیو سوداګرئ لره او هلته ئې خوش طبع ځوان دی
طبع ئې هزل ته مایل ده او کله کله ښه اشعار هم وایي پکلو کالو هم ستنګ کښې
د پلار سره او سیدلی او هلته ئې له اکملو علماو څخه لوست وکا او علوم د بیځ
ئې زده کړل د کاتب الحروف سره آشنایي لري د کان ئې قامند لوغالانو مجلس ګاه دا
وی د یارانو سره خوش طبعي او ظرافت کا هسې وایي کاتب الحروف محمد هوتک چه
یوه ورځ ئې یو یار د کاندار ئې چه نوم ئې ده محمد عمر خان پقوم لودي ګاندری
په تقاضا د طبع لطیف لشاعرانو سره آشنایي کا او پخپله هم اشعار انشا کا محمد عمر خان
د محمد طاهر سره ظرافت کا او لطیفه نکات یو بل ته سره وایي محمد عمر وویل سر کا
د محمد طاهر سره مجلس او وینا هم خوږه ده اثر د مجلس نلیدلی کیږي او نه الصحبة
مؤثرة مصداق ښکاره کیږي په سبیل د هزل ئې دا قطعه په مجلس کښې وویله

قطعه

واي دا په صحبت کاندری | پو له بلد ډیر اثر
پکلو دی مصاحب سره | تا صحبت کړ مد خر

محمد طاهر چه طبع ظرافت پسند لري او هسې نکات بند ادا کا هسې قطعه په جواب انشا کا

مقطعه

(c) ketabton.com: The Digital Library



قطعه جوابیه

صحبت دیدار کا لگوره منکر نشي دا شر

قدر محمد بخدشي وي اوس انسان سولي بشر

محمد عمر خان پلټانت له محمد طاهر پوښتنه وکا چه ستا نوم طاهر دی خو مطهر ندی

محمد طاهر هسی بیت ووایه بیت

زه وځان و ته طاهر یم خو و تا ته مطهر

ذکر د عاشق پاکباز دانای راز ملا محمد ایاز نیازی دد نیا تارک دی او ډیر ډیر ډیر ریاضت کا او په طریقت کښې مریدی د میان عبدالحکیم قدس سره العزیز کړی ده هم یا صل د قندهار د بنا رساکن دی مگر په میاشتو ورکړی لکوره او سیاحت کا او په حضور د بزرگانو حاضریږی او ګوښه کښې په عبادت بخت وی نقل کا چه ملا محمد ایاز په شپو شپو ویښ وی او په ډیر د ښتو او غرو ګرځی ذکر کاندی او د خپل پیر دستگیر پر مخ راسی ژړا کا او هسی وینا کا چه تا د مظاهر و د جمال او کمال ملرم څکه نو ښتنم ملا محمد ایاز ښه آوازری او کا کله چه خپل اشعار یغنا سره لولی خلق ژړ یږی او دیوان د اشعار و وی ډیر ښتین دی او نکات عارفانه یکښې شته هسی روایت کا چه ملا محمد ایاز اکثر

(c) ketabton.com: The Digital Library


یغرو کښې گرځېدې او دغرو وحشي او خونخوار حیوانات ده ته ضرر نه سوی ملا
عبدالحکیم چه دده شاګرد دی هسې وایي چه څو میاشتې مې استاد نزاعي کور ته
اوزه د ده پیتلا بش گرځیدم یغرو کښې یو ځای مې ولیدل د شرمښانو لو ګله چه ګرځي
او یو د بله سنګولي سره ایږی ماځان پټ کا او یغره کښې پټ پنهان سوم چه شرمښان
ورله ورپل هغه ځای ته ورغلم او ویلتدي محمد ایاز وموند چه پډراماندو خوب ویده و
او هغو وحشي حیوانانو هیڅ ضرر نه وو ورسولی بلکه وینښ سوی هم نه و ماچه لنخوب
وینښ کا او واقعه مې ورته بیان کا ده وویل هغه شپه چه د خدای په محبت ودان وي
د حیوانانو څخه بڼونه ورانېږي د حقیقي انسانیت مرتبې هسکه ده چه د حیوانیت
لاس ښکته نه سي او ګله نفس اماره چه د نفس مطمئنه تخت ته ښتي او فاني کیږي
هغسې هم د حیوانیت په دریاب کښې لاهو مخلوقات د انسانیت سره تکره نسي
کړای او لوړ مرتبې ته ښتي ملا محمد ایاز د شعر څونه دیوان لري او د ډیر ښه عارفانه
اشعار یې پکښې جمع کړي دي چه زه یې د هغه یو څو رباعي په بیان د عارفانه نکاتو
را نقل کاندم

رباعي

ره هغه دي چه لري د عرفان برخه | د هغه ښه ده په دنیا د انسان برخه
هغه زړه چه ندی هسې نه عرفان وي | ورې په زړونه کښې د ناپخه حیوان برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولہ

محبت د آب و خاک دی بی بنیاد | راسد ځلګړی د دنیا خون آباد
ګډ د زړه سپیت وی د خدای محبت | پر صحرا بدی بی کوره اوره بناد

ولہ

زړونه خوښ کړه دا نیکی ده د رښتیا | مکړه جفا باندی تیر نه جفا
د خدای کور مورانوه پر ستمو | د خدای کور و نګیډ زړه چه وی صفا

ولہ

چه د ځان پیغم اخته وی عاشق نه دی | هغه څوک د خدای دیني لایق نه دی
یا بد ځان یا بد جانان کا پرستند | څو کړ چه ځان ی نکا هیر نه صادق نه دی

ذکر د لوی واعظ ملا محمد حافظ بارکزی    دا عالم د محمد اکبر بارکزی زوی دی
چه پقندهار پهٔ کبنتند خوا کښی اوسی او علوم مروجه ی لوستی دی فقه کښی استاد دی
او پجامع ګانو کښی د جمعې پورځ وعظ کا نو پواعظ مشهور سوی دی کله کله
پخطبه کښی خپل اشعار هم وایی چه په نول نصیحت دی یو کتاب ی کنلی دی چه نوم
ی دی تحفهٔ واعظ او پدی کتاب ی د تقوا او زهد وعظونه کنلی او خلقو ته
ی امر په معروف او نهی منکر کړی دی محمد حافظ واعظ پر ښتیا ډیر مشهور دی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پادشاه او لو یا لوی هیڅ کښي هم د خدای امر ښکاره وایي او بې پروا نکوي
پیر طریقت کښي د میان نور محمد صاحب مرید دی او تدریس کار د اعلامو د فقه په قندهار کښي
طالبان د علوم ی له مجلس فیض موهي او په حلقه د تدریس کاما جزوي دا وعظیه
بدله ماراوا چیښند او نقل می کړه له تحفه د اخلاقو څخه چه مسلمانان ی و لولي

بدله وعظیه

کم بخته مکړه په دنیا د و نګون
کدی ژړه عوازهي د جنت ګلون

کم بخته موږ یو مېلمانه په دنیا
وطن موږ ولي دی آخر ځو په ښتیا

هم بدېښند بل سي د اعلام په عقبا
نو له سره اودرکې پامان څانون

کم بخته مکوه حرام چه بد دی
چه کړی حرام سخه باطن کي دد دی

اعمال ی ما لتولد عقبا کي رد دی
په لویه ورځ به ی وی تور مخون

کم بخته مکوه حرص قرار سه
ښا د رب کوه صبور پکار سه

نو ښند د دین وره پیدی کار وبار سه
چه بې تو بنی پیدا سو دون

کم بخته مخه د حرام پر لوری
خدای به دو تانه په غضب و ګوری

کدکه ته نه په غوږ ای نیت نه بنی حوري
بی ځای امیر ده بې پروا یلون

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکر د نصر الدین خان اندړ. نصر الدین خان د محمد زمان خان زوی دی چه پر زمانه کښې د پادشاه تیمور شاه حسین له غزنی راغی او یقیناً رښتاکن سو په مقتضا د طبع صافی یو څه مدت د صدر دوران بهادر خان ورسید او په ملک د ملازمانو د پادشاه ظل الله منسلک سو ځکه چه شجاعت او بهادری هی په طینت کښې وه نو په دلیر ورځو کی د پادشاه او بهادر خان عالیشان له څوا عزت د موند او د مستقیم طبعانو سره آشنا سو نصر الدین خان اندړ په سبب د اشعار روایي او زموږ د زمانې له موزونانو څخه کاندۀ سی دیوان د اشعار رو لری او نصر تخلص کا الحق چه نصر یې رزم او بزم د نصر خاوند دی او د یارانو او موزونانو په منځ کښې مقبول په دی کتاب دده یو د بدله په یادگار کاښم چه تحزاند د ده له یاد خالی نه وی

## بدله د نصر الدین خان

د خوار عاشق ژړا مدام وی داشګار دنیا
کو وی په پټه خوله هم له عندی ګفتار دنیا

د خوار عاشق مدعا داده که ژړا کی نا
په ورښکاره خپله زیبا مخ دلربا کی نا

په چپل وصال کئ خوشحال محبوبا کی نا
بلبله لغوری همه عمر امیدوار دنیا

د دی حسینو په ژړه ځدای بلک په اوروون دی
په وتر پیښی دی خوار یده دیر څون دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور به آرام په درسته شپه کاندی خوبون دی — پر مینانو هره شپه د غم ناتار د دنیا
د دی مینو پر زړه رب البني داغون دی — چه په ارمان د بنا پسته زیبا محزون دی
لڅرا کا او په نا ره پفر یادون دکا — هو چه عاشق سی د هغو کله قرار د دنیا
عاشقانو زړه مات کا تر غیب دنیا — هو په شپه بامدی پتری کله جو پېښ دنیا
په د وصال پامید هر عاشق اوسیږي دنیا — کدی دا نو ی ما عاشق هر ساعت بیمار دنیا
د مینانو وصال عین لوی اختر د دنیا — یو خوار نظر له چپل بخت مرور د دنیا
د بلیتون اور دی چه په سوی د رستخیز د دنیا — هیڅ نجو پېښ ی د بلیتون کاری پار د دنیا

ذکر د برگزیده احد ملا نور محمد غلجی مشهور دی په غلجی او په غلجو کښی توخی دی د ملا یار محمد زوی دی اوس په پښخوای کښ اوسی علوم شرعیه ویلی دی و تدریس کا په عمر دیر پوخ سړی دی اتیا کلن او د قندهار پښاو کښی پنجه کاله د خاندان عالیشان د حاجی میر خان د ارتینو او کوچنیو بچو نو استاد و او معو خذرا تو قه د سراپرده عصمت ی درس کا ملا نور محمد اشعار هم لری یو کتاب ی کښلی دی پنامه نافع مسلمین او په دی کتاب ی احکام شرعیه بیان کړی دی دا کتاب ی کښلی دی پنامه د پادشاه جمجاه شاه حسین او له معتبرو کتابو د فقه او اخلاق ی انتخاب کړی دی ملا نور محمد اوس په پښخوای کښی تدریس کا تخلص د شریف

او

(c) ketabton.com: The Digital Library


او بخاری شریف او هدایه او کنز او طریقهٔ محمدیه او نور مروجه کتب په تدریس لولی

دا نظم ورته دی په نصیحت کښی مخمس

## نظم د نصیحت

ته مومن ژوندی پیدی یی سی زما یاره | ته ژړا فریاد کوه په ځو کو کاره
استغفار ته تو به کوه د ځان د پاره | ته هم ځای سا نه پناه عذاب لناره

بیداری کړه په سهار کښی زما دلداره

نه وتا ته یو وییی کړم زما ورو ره | په سهار بیداری کړه آخر وگوره
ابد ته سی پچیانکښی یا په اوره | چه ستا حال به په څه رنگی له گوره

بیداری کړه په سهار کښی زما دلداره

په هر وقت له مسلمان دلداری کړه | په درېیمه شپه کښی ډیره بیداری کړه
هم په ځپل صورت وژاړه هم زاری کړه | د ا ځپل ځان لکه حباب تری بیزاری کړه

بیداری کړه په سهار کښی زما دلداره

ته دروغ الابلا مکړه دنیا کښی | داد زیان دی زما جان په عقبا کښی
ستا دیر سود دی درته وایم شرا کښی | گناهونه خلاصی ډیر دی په دعا کښی

بیداری کړه په سهار کښی زما دلداره

ته د خدای لحکم مه غوړوه غاړه | نیک اخلاق کړه ته طلب د بدخوی واړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تضرع کړه ضیل صورت کړه وچه نا په | تر له خښتو ی جو پرسوی تن د یجا په

بیداری کړه پیښهار کښی زما دلداره

تدامید کړه و رحمت ته ځما جان | در رحمت دروازه خلاصه ده جانان

هر سهار رحمت نازل سی له اسمان | مغفرت پیښها رغواړه له رحمان

بیداری کړه پیښهار کښی زما دلداره

---

ذکر د شاعر ظریف حافظ عبداللطیف اڅکزی دا شاعر په مجمع کی د وفضلا سرامد دی او په ظرافت کی هم یا ځل د بوستان دی پلاری غلام محمد نومیدی قندهار ته راغی په ماشوم کښی او سید ی عبداللطیف لږ کوچینوالی تعلیم شروع وکړه قرآن شریف ی حفظ کا او ځکه چه طبع لطیف ی درلوده نو ی ډیر خوا ښه اشعار و ویل پشعر کی طبع ظرافت ته مایل ده خو بیا هم هسی قصی او حکایتو د نظم کا چه او رید و نکی عبرت حتی کا و پند و نصیحت دی په ظرافت کی مفید ورمونډ کا او هر کله مجلس دا اشنا یا نو په ظرافت د ده مسرور وی کاتب الحروف کله کله دی وینی او اشعاری اروی او س د ځلو بیښو کالو دی او سره د دی په عمری پوخ دی خود ځوانی مستی کا او مجلسیان ی په صحبت نشاط بیا موی پیچا لوکښ اشعار ارتجالاً لولی او قصی کا فقیر کاتب الحروف د غه یو قصه د ده ید ی نظر اند کښی نقل کا په کتاب له ظرافت

هم خالی نوی

تفنن

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مقصد د سوي او د اوبن

عکوبږ ونیسي یار او دا داوبن او سوي مقصد سوه
یو سوي داوبن اشنا سو
یاری به ی کوله یو له بلی یارانه سوه
اوبن وویل چه سوی
بی تامی بنادی نسته ښیدا او وږ می پیابند سوه
تول عمري صحبت کا
شیبه ی بیلیتون نکا یو له بلی مرکه سوه
سوی و داوبن یکوور کی
مقصد بوی شروع کړه هر سهار تو بدغږ مد سوه
سوی تل مسلمید داوبن و
مخلوی سوه هسی تینګه په هر بری پند برمد سوه
اوبن هم عزت د سوی کا
دیار د زړه د یاره بد مقبوله نه بلمه سوه
یو ورو څ سوي یلتیا کړه
خپلوان ی راجر کړه د سوی تولد ملید سوه

خورا دیره خوږه سوه
بچه ی همرا سو
خورا خوږه مقصد سوه
ای زما یاره نیکخوی
خورا خوږه مقصد سوه
د سوی سری الفت کا
خورا خوږه مقصد سوه
ژوندون ی پسرور کی
خورا خوږه مقصد سوه
دوستی کی د پیر سپهوښ
خورا خوږه مقصد سوه
سا تی د ابروی کا
خورا خوږه مقصد سوه
د اوبن د یاري داکم
خورا خوږه مقصد سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبن راځي د سوي کور ته — یو غاړي ولید پور ته

وانګ په هي ثان وپچي نه ځاي یوه ګونره سوه — خوراخوبه وقصد سوه

راوړي ي خواره وه — یوڅه ده لږ وانبد وه

واتعولد په ي راوړلده اوبن یوه ګولد سوه — خوراخوبه وقصد سوه

اوبن وربي ولاړي کور ته — نختلدي سو پور ته

سریا نوی ځای نه درلودي لتولد شرمنده سوه — خوراخوبه وقصد سوه

سوریا نوجعیت کا — پاسوی ملامت کا

ول ستاود اوبن څدي په دوستي سره توده سوه — خوراخوبه وقصد سوه

په بسوي اشنا داوبن سی — باید په لږ پهوبن سی

داوبن دپاره بنایي په پیدا یو ماتدسوه — خوراخوبه وقصد سود

هرڅوک په یاراني کا — په پیل کا پیلچاني کا

هرڅا لدما سبد اشنایي او طریقه سوه — خوراخوبه وقصد سوه

په څوک ماسب لارکا — عبرت لدي ګفتار کا

لدچل تغزه سمد وهرڅا پند راوړه دکه سوه — خوراخوبه وقصد سوه

ه ه ه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکر د رستم دوران سپه‌سالار عالی‌تبار زبدة الزمان سیدال خان ناصر

محمد هوتک له الف خان ناصر روایت کا چه سیدال خان د ابدال خان زوی او
بابی زی ناصر دی په پلاری او سیدی پد د یله کښی چه دوازیځو ایسر یوځای
دی هغه وخت چه سلطان ملخی توخی استقلال وموند او له غزنی تر جلدک
ی حکومت کا نو بابی زی د ابدال خان سره راغلل او په اتغری سکونت وکا
ابوالخان د عادل خان توخی سره په هغه وخت له بیګلربیګی سره د قندهار چه د
صفوی پادشاه لخوا د جنګونه وکړل او ندی پریښو چه پر کلات حکومت وکا
سیدالخان په دتګلی پلار زوی و لیبخاوت او شجاعت زبده د روزګار رسو
او هغه وخت چه حاجی میرخان علیین مکان لقندهار کښی ګرګین خان بیګلربیګی
ووازه سیدال خان ناصر د پښتو د لښکرو سپه‌سالار واو د ن لوستلی وه علوم
مروجه لکه فقه تفسیر وفصاحت صرف ونحو او فارسی کتب چه د میرویس خان پیژونه
هکله د صفوی لښکر د قندهار د خلقو انتقام ته راغلل نو سیدال خان ناصر
د حاجی میرخان لخوا د پښتو سپه‌سالار و او څو واره ی د صفوی لښکر په ترهتاب
تیر و ورژل پدی لټو لو جنګو سیدالخان غالب او فاتح وا او پد دلاوری او شجاعت ی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهرت وکا چه حاجي میرخان علیین مکان وفات سو نو سیدالخان عالیشان
وشاه محمود سپه سالار سو او پر اصفهان ئې یرغل وکا د صفویانو په جنګو پر لتو لو
میدانونو غالب او فاتح سو څو ئې اصفهان فتح کا او دښمنان ئې مقهور دک
نقل کا چه سیدال خان نامر په هغه وقت چه په جنګو ئې ګرفتاري نه وه
اوله حیص و بیص ئې فراغ و اشعاري ویل او د عشق سندرې ئې کښلې او س
چه په مهما تو د امور په اصفهان کښې بخت دی د شعر ویلو فرصت ئې نشته
او ورځې ئې تیرېږي په هسې جنګو چه رستم هم ځنې ډار کا د سیدال خان
له اشعارو څخه دغه بدله پیغزانده کښې کاښم چه دا کتاب د ده له ذکر خالي
نه وي او دا دی خان عالیشان بذکر منزین وی

بدله د سیدال خان عالي مکان

یار ماله هسې ګرانسو + را تیر تر ټول ایها نسو
ونه زړه ومنم پیغور ته + جهان قبول را ته جانان سو

وی زلفي دا اوږدې کړي    پیر څه د راضي کړي
سری اشرفي د په تندی باندې سپرې کړي + ګرزي په باغ کښې ګلونو ته نخرې کړي

په ادر دو سره هم یاره راته او ر تانه بوستانسو

یمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



مین چه اشنای کا  شپیدۍ ورځ به کړیا ښی ۵

مشهور دوستمګاره خوشحال زیرون برخې کا + لنډی لری دور څیو د بانو عشق کاری ؟

پر هاری ګوره طوقه د دلبر د تیر نبان سو

مین پر لو یو غږو ځی  مرغوره په نیمو شپو ځی

وزی او وطن وطن پرین دی پر پیو لو ځی + فریاد و ناری وکا ښیا ورین په غلیلو ځی

وصال ی نصیب نسو لوره زړه ډک په ارمان سو

ناری وهم عالمه  دشپی تر صبحه ۳

ناتوان و بلیتون یم یوګرد نلرم دمه + بیتامی نفس نیږی راځه زما دزړه بنده

نظر پر ما غریب کړه چه تا خون می ستا بیځا نسو

شبنم پر ګلو ښکاری  زما اښکی دا رنګ داری

خوناب ځی ستا لغمه زما په ځنګلی لاری لاری + تمام شپه لمر ښیره پټ د ایناری ناری

ښکاره سوه چه مجنون یم لیونتوب می اوس پیدا نسو

بوستان ښکلی ز بیا دی  رنګین په او ښکو زما دی

دزړه پر هار ګلونه دی چه بلبل بتماشا دی + پیمبنه تی زړه و ښادوی ته دوای چیله دی

نیلی بیلتون یم زه سید اول امیر بیا نسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریمه برخه اند په بیان د هغو چه شعرونی ویلی دی

ذکر د عصمت بابا نازو توخی      هسې نقل کا چه نازو د سلطان ملخی توخی لور وه
چه تولد ئې په سنه ۱۰۶۱ هجری هغه کلای تر نژدی و چه تازی نومیږی سلطان ملخی
په هغه وقت د غزنی تر کلاک د اقوامو مشر و او په استقلال ئې حکومت کا معارض
او ساری ئې نه لود او نازو په کوچنی والی له میرمنو د پښتنو او سپین بږیرو علما و فتحه لوست
وکا او میره مخی، ارتینه وه چه نا هیندی میرانی او شجاعت او سخاوت تذکیران و
روایت دی له لقدر راو یا نو چه سلطان ملخی و سور غره قد نژدی په جنگ کښی و مړ
او حاجی عادل چه د نازو ورور و د پلار پانتقام نجنگ تر ولاړ کلا او کوری نازو
تر پرینبو او پهغه وقت نازو توره پیدا کړه او د جنگ لیوتو انا نو سره ئی
کور او کلا له تا پاک د د ښمنانو وساتل ماته ضبل پلار حکایت کا چه نازو انا
په پیلمیتیا او غریبانو مسافرانو چه پالنه مشهوره ده او هر وقت چه پیدا ژمی بدد
مسافرانو قافلی راغلی د نازو پیر کلای اول په سوه سوه پیلماه بدی روز ل
او دوی تری دودی ورکوله پچاچه مدکالی ندر لود لباس ئی ورکاوه
او سخاوت نوم ئی له ضبر ترکو سانه چپور سو نازو پچبا له د بنالم نحا ن

پاړشنه

هوتک وه په دکرم خان زوی واو دهوتکو بنالم خیل چه سن وریځ پادشاهی دقندهار او
اصفهان ددوی وه لدی شجرې طیبه څخه دی او نازو څلور زامن درلود چه مشری
حاجی میرخان او نور عبدالعزیز خان او یحیی خان او عبدالقادر خان دی
بیبی روایت کا محمد کاتب الحروف لنځکی پلاره چه نازو انا عابده صالحه متقیه وه او خپلو
زامنو ته یی په تول عمر په ادو اسعد شیدی ورکړی او چه علیین مکان حاجی میرخان
تولد سو خوب یی ولید چه شیخ بیټنی رحمة الله علیه ورته وایی دا زوی بند تربیت
کړه چه لوی سی لوی کارون بهٔ وکا او بیزیارت دبیت الله بحیات مشرف کا او له نسل
به یی پیدا سی پادشاهان چه دین بهٔ رواج ورکا نو حاجی میرخان په وزیرید مورکی
پیدا یانت او عبادت سره لوی سو او ددین فرایض یی په تول پرادوم کال ورسنوول
او هر کله به یی ده ته نصیحت کا چه زوید دشیخ بیټنی رحمة الله علیه قدس الله سره په قول ستا په
بښو کی لوی کارونه نو چه لوی شی دخدای عبادت او دخلقو خدمت کړه تر
خدای پیدا کړی دی دی دپاره چه لوی کارون ترسره کړی او خلق الله په خدمت
ستا آرام وکا روایت دی چه حاجی میرخان علیین مکان به هر وقت ویل چه
زما مور ماته دغو یو کارو دکولو وصیت وکا زه بابه هسی کارون وکړم چه په
سنه ۱۱۲۰ هجری کی توسم د ظالمانو له ظلمه [illegible] روره نوی مسجد دشکر وکړه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای د ابخند کار و چه ماته مور سپارلی وا او وصیت ی کړی و د اخو ستا د عبادو
او بنه ګانو خدمت و چه ماتر سره کا زما پلار هسی وویل چه نازو انا علاوه پر سخاوت
او شجاعت او عبادت ته بسی ارتیند وه چه د خدای تعالی فخر . پښناجات ی ډیر
اشعار ویل او یو دیوان ی درلود چه د د زړه بستو ندیکښی وه او سلیقه ی سند لکاف
اداکړی او داسی ی ویلی و چه نارینه ی هم فیسی ویلاک او د غه رباعی چه د نازو
انا ده ماند خپله پلار او د بیدلی وه الحق چه ښه رباعی ده

رباعی

سحرګړه وه د نرګس لیمه لانده — څاڅکی څاڅکی ی لسترګو څڅیده
ماوېل څه دی کښلی ګلو ولی ژاړی — ده وېل ژوندی دی یوه خوله خندیده

رحمة الله علی الماضین کلهم الی یوم الدین

ګوهر د رشهوار عصمت حلیمه حافظه . حلیمه د خان علیین مکان خوشحال خان
ختک لور وه چه د عبدالله درخان ختک سره واده شوی کیده زما پلار هسی روایت کا
چه زه بنو ته د لاریس پیښه وخت دا پښتنه ژوندی وه او د خپل پلار په ژوندی
روچه علوم و لوستل او بیا د شیخ سعدی لاهوری رحمة الله علیه مریده سوه او
هغه پلار ی عبدالقادر خان په لاس ی بیعت د کا چه هغه هم د شیخ دوران

خلیفه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلیفه و روایت کا چه حلیمه بی بی فاضله او عارفه ښځه ده او په سراپرده
د عصمت ناسته ده میره ی مذی کړی او د خالق عبادت کا او د خپل د رور عبدالقادر
خان ملګور کښی لوړو ښځو ته لوستل کا او قرآن عظیم ی هم پیاد دی زما پلار وویل
چه حلیمه بی بی په پښتو ښه اشعار هم وایی او په خپل عصر سرامد اقران ده
او موزونان د پښتو ی اشعار خوښوی د تصوف او طریقت کتب ی ټول
لوستلی دی او هسی وایی چه مشکلات د مثنوی شریف او مکتوبات د حضرت
امام ربانی قدس سره حل کوی د حلیمی په اشعار وکښی مجازی عشق ورښکاری
بلکه ټول شعرونه ی د حقیقت پرلاردی او د محبوب حقیقی صفت کا د غه
یوه غزل ی زما پلار ما ته وویل چه پخزانه کښی د اخلوم رحمة الله علیها

غزل

داشنای لفکر خوښه هسی شان شوم | ښه هیب م چه ممتاز که فورجهان شوم
چه ی کړمه متا پښه سرفرازه | تنا خواند پخو ښګه دریجان شوم
چه مجازی دایاز ولاړی لز ړه مه | سربلند د تر محمود غزنوی سلطان شوم
وهر چاوته چه ګورم واړه دی دی | د جمال په ننداروی شادمان شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



غیر فکر می لزړه ندرا بهر شو | پر خلیل د پر عدو باندی یکسان شوم

حلیمی دغم از غمه زیات لحد شو

چه دی بیل بیا ره نکایه گمان شوم

ذکر د عارفه کامله بی بی نیکبخته داعصمت پناه او عارفه د الله د شیخ الله داد لور وه په قوم مموزی په پدا شتغر کښی کورنی او پلار ئیکد دښمن زیو مرشدان وه هسی وایی کاتب الحروف محمد چه زما پلار روایت کا چه شیخ امام الدین خلیل غوریا خیل په خپل کتاب اولیای افغان هسی کښلی دی چه شیخ الله داد لوی ولی وا او لوری نیکبخته چه په تحقیقت هم نیکبخته عارفه نیکبخته وه علوم دینی ئی ولوستل او په ریاضت او عبادت د خدای عمر تیر کا په سنه ۹۵۱ هجری په حباله د نکاح شرعی د شیخ قدس الله سره راغله چه د خواجه محمد زاهد خلیل متی نزی زوی وا او عارفه د خدای و په سنه ۹۵۶ له بطن غوث الزمان قطب دوران شیخ میان قاسم افغان په بدنی بنر پیدا سو او دا شیخ په معرفت د خدای شهرت وکا چه په هند او پښتونخوا مشهور سو نقل کا چه شیخ امام الدین هم د دی عرفا له اولاد د دی او دی کتاب د اولیای افغان هسی کاږی چه بی بی نیکبخته په د خدای عارفه او راجعه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زمانې ده یو کتاب ی کښلی دی چې نوم ی دی ارشاد الفقرا او پہ دی کتاب
ی هسې نصیحتونہ لیکلي شعر ویلي دی، پہ فقرا او عباد الله ته مفید دی دا کتاب
پہ ملکہ ۹۶۹ هجري تمام سوی دی او زما پلاری نسخہ لیدلی وه پہ بنو کښې
هغه وقت چې دی تللی و پسی د هغه ځای د غه شعرونه له هغه کتاب زما
د پلار پیاد وه پہ ما د لیره ځنی نقل کړل چې کتاب می پیدا کړ د عارفه دوران
رنګین وی

## مثنوی پہ نصیحت کښی

| | |
|---|---|
| پرېږه بنا دښتي ای مومنه | ظاهر په باطن سپین |
| ظاهر زهد په اخلاص کړه | پرېږه تینګ شه له یقین |
| شکر صبر پر هر حال کړه | خودنمای مشه خودبین |
| مشه وروح به پرې راځي | که خبر شي له سجین |
| سجین ځای د خودنمای | د بې نماز او دبې دین |
| له هغه ځا امان راکی | یا الله العالمین |

## بل نصیحت ولیها ایضاً

| | |
|---|---|
| د خدای حق ته غاړه کښېږده | نوری نوری دنیا پرېږده |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دنیا پاته له هر چا ده
په اخلاص کې څښتن لیږ ده

څه قوت لري پیدا نکې
سر د یار په رضا کښېږده

ځان له بده خویه ژغوره
زړه په ذکر د یار بلیږده

کل دنیا به دښمنه شي
ادم لبیري څښتن ویږده

بتول غواړي حساب دې
کړه داومني کړه د مېږده

دنیا ترک ته هر که پوه شي
دلقا پر لوري بیجي بږده

## ولها ایضاً رحمها الله

په طلب ئې وودر بیږه
په خدمت ئې هو سېږه

لجمله بدو نفرت کړه
و نیکي ته ولاړ بیږه

په نیکي کښې ئې اخلاص کړه
بدي مکړه و پوه بیږه

په ګناه له داره وستر ګو
د باران په دود وریږه

په یارب العالمین
له ګناه را تېر بیږه

خدای برحم بینا وګا
بېزار یو له ژړیږه

بې پروا و خدای سته مشد
له غضب د وېرېږه

هر عمل چه ئې حق دی
په طلب ئې و بنو ریږه

ذکر

ذکر د پرمنی د حسب او نسب بی بی زینب اطال الله بقائها

بی بی زینب د حاجی میرخان علیین مکان لوروه چه لکه چینوالی ی
پحرم کی د عصمت او عفت لوست وکا لیپلد سبغه چه قرآن کریم ی
ولوست د احکام اسلامی او فقه کتابونه ی هم ولوستل او د فارسی
مشهور کتب ی ضبط کړل استاد د علوموی ملا نور محمد غلجی دی چه دیر
عمری مخدراتو ته د حرم درس لوستی دی هسی روایت کا چه بی بی زینب
ډیره هوښیاره او پیمها تو د امورو عالمه منجمه ده او د پادشاه جهاه
شاه حسین پامورو کی تدبیر کا او هر کله پرای صایب مشکلات د امورو حل کا
او پادشاه د زمان ی پحجر و عقل کا او لقایح ی اوری د ادر مشهوار د صدف عصمه
سند سند شعرونه هم وایی او د موزونانو او شاعرانو قدر کا د دواوین د
شعرا هر کله لولی او مضامین شیرین ی کام شیرین کا عمر لعبادت
خدای او تلاوت د قرآن شریف تیر دی او مخدراتو د حرم د پادشا
ته درس او کبیل او لوستل ورښیي نقل کا چه د شاه محمود جنت مکان
د مرگ حال قندهار ته راورسید نو د پادشاه خاندان عالیشان لهو لا غمجن

(c) ketabton.com: The Digital Library


او مجزرالتو د هرم ساندی او غلبلی کا بی بی زینب په واقعه د ورور د وفات واورېدله ډېره غمجنه سوه او په تلاوت د قرآن او لمانځه ی تسکین وکا د تلی زړه او هسی وېرنه ی په ویر دخپل ورور مرحوم دومېله په زړه ی دلله نقش کوم خدای تعالی د مقبول نا مزان عالیشان د پادشاه ظل الله ژوندی دلری او خوښ

## مرثیه د شاه محمود جنت آشیان

بڼ غوسو په ویر تیر لدنیا سونا — قندهار واړه په ژړا سونا
زړه می په ویر کی مبتلا سونا — په شاه محمود لما جلا سونا

دا روڼ جهان راند تورتم د دنیا + زړه د بلیتون پتیغ کرم دینا
هوتک غمجن پدی ماتم دینا + دیا پهی تاج موبر هم دینا

په شاه محمود تیر لدنیا سونا — قندهار واړه پژړا سونا

خوان ومیړه دتوری جنگ ونا + ولاړ دکام بنام ونگ ونا
دښمن لره په بنو رنگ ونا + پرمیدان شیرو یا پلنگ ونا

افسوس په مرگ د ده پیغوا سونا — قندهار واړه پژړا سونا

محمود

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمودٔ ندیوازی خور ژړی + پر مرګ د هغوی کلی کور ژړی
خپلوان لا څه پاچا د وروړ ژړی + لښکر سپاه د پلی سپور ژاړی

پښتون د پښتول پوا ویلا سونا    قندهار واره پړپړا سونا

اصفهان پاتۀ تاج لښکور عالم + چه شاه محمود سوشن پګور عالم
د پښتون لمر سو تیاره تور عالم + راغلۀ دښمن بلا پیغور عالم

چه پاچا ولاړ پښتون ګدا سونا    قندهار واره پړپړا سونا

لښکر سو چیور پښتون ملا ړی اریان + پیخا ور و ځای کا شاه محمود عالیشان
پاتۀ سو تخت و تاج د هغو اصفهان + ژړی راسو پر سو کا خوښی دښمنان

وایی پښتون اوس بی پاچا سونا    قندهار واره پړپړا سونا

اسمان بیا د څۀ ستم کا څرګند + د شلا وه تا چه د پښتون و پیوند
دښمن د بیا زور پویږ کا خورسند + چه شاه محمود د کا پیغمبر کی بند

پر کور هو ویر شور و غوغا سونا    قندهار واره پړپړا سونا
هوتکو ژړی شاه محمود څۀ سونا + پښتو نتا سی لوی سپاه څۀ سونا
د اصفهان تر فراه څۀ سونا + پاچا چه وحشمت پیاده څۀ سونا
د پښتو پر تېم فنا سونا    قندهار واره پړپړا سونا

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمود څوان دی ولی ولاړی لما + لیخت و تاج ته یې رشه سوی جلا
اصفهان ولی پاته سونا لتا + سر د را پورته کړه په څکمې اعدا

دښمن و لاړه بیا شاه خوا سونا — قندهار واړه پېژړا سونا

او رمه ناری دغم په کړین فریاد + پښتون په مرګ د شاه محمود سو برباد
ز ړون په تل تاوتاوین سونا بناد + د ساندو بنغ دی چه راوړ مینی باد

ماتم ز ده پیر و برنا سونا — قندهار واړه پېژړا سونا

و رور مقرر د تامولاکی جنت + در دکی تا ته پسله مرګ راحت
روح دوه شباد پلوی ورځ د قیامت + یخ دوه رون د خدای په مهر و رحمت

د خالق رحم تل پرتا سونا — قندهار واړه پېژړا سونا

---

ذکر د شاعره برګزیده زرغونه زرغونه د ملا دین محمد کاکړ لورده په پنجوا ی
کښی اوسیده د اوپلار ی ورکا تحصیل د علومو او د فصاحت احکام ی زده کړل
او د فضحاو اشعاری و لو شتل زرغونه پیجاله د سعد الله خان نورزی وه چه نور یالی
زامن ی درلود او لیتول د علم و هنر خاوندان و ماته هی نقل وکا زما پلار چه زرغونی
د شیخ مصلح الدین سعدی رحمة الله علیه کتاب د بوستان ټول په پښتو شعر نظم کا او نوم

ی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ی و بوستان د پښتو چه دا کتاب یې په سنه ۹۰۳ هجری قدسی پایته ورساوه
او تول نکات عارفانه او نصایح حکیمانه ئې په پښتو کړل علاوه پر دې زرغونې
لغه اشعار او غزلونه هم ووېل او پر زمره د فصحای شهرت وکا هې چه موزونا نو
د روزګار به ئې اشعار لوستل او د پښتو په بوستان ئې سیر کا او ګلونه د پند
او نصیحت به ئې لټول هسې وایې چه زرغونه کې لداره ښځه وه د خطای نور اشند
وا او کاتبانو به ئې له حسن خط اقسام د خط زده کول زما پلار هسې و وېل
چه په سنه ۱۱۰۲ هجری ما د زرغونې په خط بوستان د پښتو ولید چه خپل اشعاری
پخپل ښه خط هسې کښلي و چه مطلری ئې خط ته عاجزې کا او دغه حکایت له سفینه
کتاب زما پلار رحمة الله علیه بیا د و په زړه ئې یخزانه کښلی کا ب هم

## حکایت له بوستان د پښتو

| | |
|---|---|
| اوریدلی مې قصه ده | چه لشانه هم خوږه ده |
| د اختر په ورځ سحار | بایزید چه و رویداب |
| له حمام راوتلی | یکوښته کښې تیریدلی |
| ایرې څاورې چا لبام | را چپه کړلې ناپام |
| یخ او سرې اسو ګکم | پا یرو پیخا ورو خر |

(c) ketabton.com: The Digital Library

بایزید پشکر کښېنو سو | د مخول ځ پر پاکید وسو
چه زه ور سیم دبل اور | چه پاور کی سم نسکور
لا ایرو به شو بدورم | یا به لږ شکوه کوم
هو پو بانو ځان ایری کړ | لا لوینی ځان پریکړ
څوک چه ځان ته گوری تل | خدای ئې نسی کړای کتل
دوی تل پگفتار ندره | لو خبره پکار نده

تواضع به سرلوړ کا
تکبر به تل خوړ کا

ذکر د عفت همراه رالبعد حال د دی شاعره ماته ندی معلوم سوی خو لږ شه چه منبکاره ده مخه سی ده چه دا شاعره دقندهار ده او چه درات د محمد بابر پادشاه ی ژروند کا سی وای چه اشعاری دیرو دیوان ی درلود دغه دیوه حصله رباعی ماته صدیق او رفیق محمد طاهر جریانی وویلد

چه زه ی دلته پنځر اند را نقل کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



رباعی

آدم ی مخلی وتدر استون ه | یا ورد غم ی سوی ایرون کا
دوزخ ی روغ کا په یخ د مځکی | لوم د بغد د لند بلیتون کا

## خاتمه د کتاب په بیان د حال د کاتب الحروف

## حقیر فقیر محمد هوتک ـ مولف د دی کتاب

هغه ابی محمد زوی د داود خان زوی د قادر خان د بیقوم هوتک په زمون د کهول
اصل ئې مرغده چه زما نیکه قادر خان له مرغو څخه راغی سیوی ته او سیده
وسیدی پسله څه مدت به تا شاد نصیب او قسمت راغی او د قندهار په خوا کښې
لیکلی د کوکران استوګنه کوله او پیشه ی زراعت وه داود خان د پر عمر ی
ویش د ۶۷ کالو په سنه ۱۰۵۸ هجری وفات سو او په سنه هم چه کوکران
کی مېری جنګ سو زما پلار چه داود خان نومیږی په کال ۱۰۲۹ هجری په عذر لوران
ز بېزیدلی او په آوان د صباوت ی علوم لوستلی و او په خپل عصر په موزونانو
او فصحاؤ و علماو د نامه نهاوندو او د پیرغره قندهار تللی او د کسی خروان او به

(c) ketabton.com: The Digital Library



٢

او ډیر او پېښور او لوړ ځایونه ئي لیدلي و بعد وفات چه خان علیین مکان حاجي میرخان یقیند بار کښي دګرګین خان سره جنګونه کړل نو زما پلار هم په هغو جنګو کي ملګري وو سره ځکه نو له قدیمه زما معرفت له دي خاندان ډیر دی او اخلاص ئي لرم پرزړه لیکه پیکال سنه ۱۱۲۲ هجري په د صفوي پادشاه لښکري پرقندهار راغلي نو د جنت مکان حاجي میرخان لښکر او زما پلار د ور لاره او لیغزاه او ستان او کلمنات او لوړو ځایونو پېت ند د حاجي میرخان مدد ته را وغوښتل او له هغه پښتو سره ئي مرکه وکړه او ډیر پېښتانه د لوړو او بارګزو او اسحق زوي لښکري کړل د خان او پرځرو خان ئي پرغلو کا او په هغو جنګو زما پلار د حاجي میرخان جنت مکان لښکر اسپه سالار و پس له وفات د حاجي میرخان مرحوم مغفور زما پلار ره په سنه ۱۱۳۶ هجري وفات سو او پکو کرات د خپل پلار سره شیخ سو د غه مرحوم رحمة الله علیه طبع مستقیم در لوده او کله به ئي شعرونه هم ویل چه د لته تیمناً دده دوي رباعي راوړم او دا رباعي په صنعت د تجنیس بې نظیر دی او په فصاحت هم مثل نلري

رباعي

چه د جانان زړه کي اور د مینې بل سي — په اور بل ئي لمبې لږې ځاني بل سي

ور د مینې کله مري د زړه له مینې — دا اور بل هغه کله نه د زړه ټپل سي

رباعي

(c) ketabton.com: The Digital Library



رباعي ولد ایضاً رحمه الله تعالی

کړی وینې وینې تل څاڅي له زړه وتحه　　څوک به د وینې تا له څوانو یا وړیه تحه
د زړه له زړه کړه وینې وینې څاڅي　　به کړو د غم لویدلي ښاله کړه وتحه

اوس به دی لږ حال د پلار او نیکه د کیبش نو تفصیل حال هم کاږم او د خزانې
لیدونکي پخپل زما راتګ دی نابودی، د نیا تاریخي تولدي واقع سوی وه په
۱۱ د رجب المرجب سنه ۱۰۸۴ هجري یکوکړان کښې او سن تود تمیز ورسیدم نوی
پلار درسي راته شروع کا او تر اتلسم کال د عمری ولوستل احکام
د دین او فقه او اصول او تفسیر او د فصاحت علوم لکه قافیه او عروض او
بیان او معاني او نور چه زما پلار مرحوم وفات سو او زه په تقاضا د پادشاه ظل الله
دامت سلطنته شاه حسین را علم د (فنه) ربا رته او ترا وسه به نظر کیمیا اثر
د پادشاه اسلام پناه د بیم او هر کله پا احسان او مرحمت د دې خاندان عالیشان
سر بلند یم عمری تیر سی کي پلوستلو او کښلو د کتب او له منځه د جهان بلد بهر ملګ
او وز چه می هم خوبني لکا بیلیدي اشغالو چه بل ځه پدي اوقاتو د عمر چه می تیر کړ
ډیر څو کتابونه مې وکښل چه یو له د غو ځه دغه خزانه ده او نور دا دي یو کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښلي دي په بيان د علوم د فصاحت چه خلاصة الفصاحت ئې نامه ده او بل
کتاب مې هم د علوم د فصاحت په پښتو د خپلو پښتنو طالبانو د پاره خلاصه کړل
بل کتاب مې کښلي دي په بيان د طبابت او علاج چه خلاصة الطب ئې نوم دی په
۱۱۳۹ سنه هجري چه دغه کتاب د پادشاه عالم پناه مد ظله تر پيشه کا
سل طلا وي ئې ما ته صله تا او هر کله د اسی مراحم د پادشاه د دې فقير غريب بچې
د پېر دي او ارکان د دولت ابد مدت هم پېر دې فقير د رحمت نظر کا خاص بيا
ها درخان عالیجاه چه من ورځ بنقند هر د غربا و په سر ظل د رحمت دې خالق
دې عمر د پېر کا مالدي د ديوان د اشعارو هم ستر چه په دې وقت کې مرتب او مدون
سوی دی او غزلونه او قصايد او رباعي اړې کله چه جمع خاطر ميل د شعر او د بنا
کا شعرونه کاتب هم او موزونان د روز ګاري خو بنوي ځکه چه د طالبانو ستاينه
سبب نده او پوهان لری کار عار کا نو پخزانه کی می خپل احوال وکښل چه
د دې کتاب ويونکي ما ته دعا وکا او هر وقت مې په دعا ياد کا خپله يوه غزل
هم د التذ د نمونې په طور کاتب هم په پر صفحه د روز ګار يادګار وي نور
اشعار مي په ديوان کښې ئيو شان دی شايقان د علم او شعري له ديوان لولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل د کاتب الحروف غفر الله ذنوبه

ساقي پاڅه د سره ملو ډک یو جام را
تا الغم ناآرام یم آرام را

بیله مېو د بنګا رندا ری څکم
پېر لې سو د خوښۍ بنه پېغام را

دنیا پاتې ده بنادې مو یو ګړۍ ده
یو ګړۍ مې خوښ کړه مې کړې انعام را

د بلیتون پتاریکو کې مې شین سو
رنا الحمد جام د مېو نیطلام را

ناکامېو د دنیا مې کام را تریخ کا
چه مې خوښ کا کام تر خضر دما ناکام را

نه نشاط سته نه مستي سته نه رندي سته
چه سم نه شي خدای و بده علي اللدام را

پاو بوي سو په زړه ګي لږ څه ارزو ده
محمد ته د اورډک یو سي جام را

تمت الکتاب بعون الملک الوهاب اللهم اغفر وارحم لکاتبه و قاریه و من له حق علینا والصلوٰة والسلام علی رسوله و علی آله و اصحابه اجمعین کتاب تمام سو پورځ د جمعې ۲۴ د شوال المکرم ۱۱۴۲ سنه هجري په قند هار بنار او موصوف محمد هوتک ببم فارغ البال سو الحمد لله حمداً کثیراً

بتاریخ دهم ماه ربیع الاول سنه یکهزار و دو صد و شصت و پنج هجري گذشته بود

(c) ketabton.com: The Digital Library


از هجرت رسول خدا صلی الله علیه وسلم بدستخط حقیر فقیر پر تقصیر
نور محمد نوروتی برای عالیجاه رفعت جایگاه سردار عالی تبار سردار
عبدل خان قلمی گردید    هرکه خواند دعا طمع دارم
زانکه من بنده گنهگارم    این کتاب را احقر الناس محمد عباس
قوم [illegible] در شهر کویته بلوچستان خاص از برای عالیجاه تجارت نشان
حاجی عبدالاکبر قوم [illegible] قلمی کرده ۱۳۰۳ سنه هجری با شوال تمام قلمی شد

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**